ژباړن: سراج الحق ببرک زی څدراڼ ۲۰۱۳/۰۱/۱۸

# اټومي ځواک پاکستان ګډ وډیواو نارامیوکې ډوبیږي

شپیګل آنلاین: نیټه ۲۰۱۳/۰۱/۱۶ ، حسنین کاظم

یوسړی چې ځان یې په خپله د انقلاب لاربنود نوموليِ، د یو ستر لاریون لامل شوي دی. د پاکستان ستري محکمي د لومړي وزیر دنیولو امر ورکړي دی. د دغو لوبو تر شاه پوځ خپل چانس ته انتظار باسي . د پاکستان اتومي دولت به ډیر زر د ژورو سیاسي ګډ وډیو لخوا ولړزیږي، پرته له دې د غه هیواد د تاوتریخولي، تشدت او ترهګري ښخه هم کړیږي.
دغه صحني او انځورونه له یو بل ښخه ډیرتوپیر نه لري. خلک په اسلام آباد کې د ولسي جرګې ودانۍ مخې ته ګډیږي. نارینوو لاسونه د یو بل پر اوږ و اچولي او په یوه ډایره کې ټوپونه وهي. ښځو زرغون بیرغونه د سپیني نیمه میاشت سره ښوروي او سندرې بولي. دوی په پرلپسي توګه چغې او نارې وهي (نظام بدلو) نظام بدل کړئ. لاریونکوونکي د محمدطاهر القادري پلویان دي، دوی یو مبهم، بغاوتګر سړی چې د رژیم ګوتنوونکي او د انقلاب لاربنو یا مشر دی بدرقه کوي. د ستري محکمي پریکړه چې لومړي وزیر راجا پرویز مشرف د مالي فساد په تور تورن دی باید و نیول شي. دهیواد له ډیر برخو ښخه په تلویزیوني شبکو کې د قهریدلي خلکو انځورونه ښودل کیږي. دوی د راجا پرویزاشرف د نیولو خلاف لاریونونه کوي. د دوی ښخه ځینو په تاوتریخولي لاس پوري هم کړي دی. په کراچي کې خلک هوایي ډزې کوي. نوربیا طاهرالقادري ته ښکنځلې کوي. دوی وایي، چې دغه سړی حکومت او پاکستانیانو ته درناوی نه لري. ځکه حکومت په ۲۰۰۸ کال کې د ولسواکو ټاکنو له لارې ټاکل شوي دی.
پاکستان په خپل تاریخ کې تر اوسه پوري له یو داسي ژور سیاسي کړکیچ یا کرریز سره مخامخ شوي نه دی. اتومي ځواک د یوې ازموینکي دورې سره مخامخ دی. داسي مالومیږي چې داخل له دغې ازموینې ښخه بریالي راوتلي نشي. د نوي کال په پیل کې او یا د مې په میاشت کې ټاکنې تر سره کیږي. که پاکستان بیا هم له دغو ګډ وډیوسره ټاکنې ته ورسیږي، دا به دپاکستان په ۶۶ کلن تاریخ کې لومړی ځل وي چې یو ولسواکه حکومت خپل قانوني وخت پوره کوي او ورسره یو بل ملکي حکومت یې ځای ناستي کیږي. ظاهرآ دا هیڅ مانا نه ورکوي چې د انقلاب لار ښود یا مشر دیو منتخب حکومت له مشرتابه ښخه د سمدستي استعفا غوښتنه کوي.

## پوځ له دغې ناوړه حالاتو او ګډوډیو ښخه ګټه اخلي

ځکه اوسني حالات د پوځ په خوند او رنګ برابر حالات دي. پوځ پنځه کاله مخکې د پوځي ډیکتاتور جنرال پرویزمشرف د واکمني پای ښخه را ورسته په ولس کې خپل اعتبار او اغیزه په تدریجي ډول له لاسه ورکړي.
په ۲۰۱۱ کال د مې په میاشت کې د پاکستان په شمال ایبعټ اباد کې د امریکایي سرتیرو لخوا د بن لادن د وژل کیدلو ځای دپاکستان د پوځي اکادمي ښخه یوښو سوه متره واټن درلود، دوی ته د ا یو ستر ملي شرم وو.
همداسي پر پوځ نوري ګوتنیواکي هم کیږي، ځکه د امریکایانو لخوا د دروڼ یا بې پیلوټه الوتکو برید ونو باندې پاکستان په عامه توګه غندنه کوي، خو په پټه کې له امریکایانو سره په دغه بریدونو کې جوړو او یوه خوله دی. په هر صورت د دغو بریدونو پروړاندې پوځ هیڅ اقدام نه کوي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ځولسیزو راهیسې پوځ په هیواد کې یواځیني بې جوړې ستر ځواک وو. پوځ د هیواد د فاع په برخه کې دیو ځانګړې اورګانیزیشن څخه نوره هم جګ درلود. وسله وال پوځ تل په سیاست کې تل لاسوهنه کړې او کوي. پوځ د پاکستان د نیم تاریخ څخه ډیر دپاکستان ولسمشر، لومړی وزیر او د اقتصاد ډیرې برخې او چارې کنټرولوي، دهیوادپه ټولو مهمو چارو اوپریکړو کې، مهمو سفارتونو ته د سفیرانو ټاکل او پوځ د دولتي هوایي شرکت پی ای اې په ملي عوایدو کې خپله ټاکلې برخه لري.
پاکستان کې د پوځ اغیزه له ډیره مودې څخه په محسوسونکې ډول را ټیټه شوې ده. سربیره پردې اوسني حکومت پریکړه کړې ده چې د پخوا په پرتله یواځې حکومت او دحکومت سیاسي اپوزیسیون کولې شي، د ټاکنو څخه لږ مخکې یو عبوري حکومت داساسي قانون پر بنسټ رامنځته کړي. په دې برخه کې اوس یواځې دوی دواړه پرته له پوځ څخه اجازه لري چې خبرې وکړي. پر دې سربیره ډیر خلک د دومره لوی پوځ شتون او د پوځ مالي لګښت او په هیواد کې د پوځ پرټولو چارو باندې بې کچه واک لرل تر پوښتنې لاندې راوستې دي. یواځې د پاکستان پوځ ۶۲۰۰۰۰ سرتیرې لري.
په تیره کال کې د پوځ لوی درستیز جنرال پرویز اشفاق کیاني په هیواد یو تر ټولوځواکمن سړی په توګه د پاکستان په تاریخ په لومړی ځل په یوه بیساري وینا کې وویل، چې نه یواځې بهرني ګواښ بلکې په کور دننه ترهګري هم دغه هیواد له سترو ګواښونو سره مخامخ کړې دی. تر دې مخکې یواځې زوړ دښمن هند د پاکستان شتون لپاره یو ګواښ وو.

## ځومره احتمال د پوځي کودتا شته؟

که حالات په تاوتریخوالې واوښته، پوځ به له دغې ګډود وحالاتو څخه ګټه پورته کړي او خپلې پوځې لاس وهني ته به یوه بهانه ومومي. ځکه هېڅ ځوک پرته له پوځ څخه امن اونظم نشي راوستلې. له یوې خوا ټاکنې راروانې دي او له بلې پوځیانو غواړي او دوی ته ښه موقع ده چې اوسني حکومت یوې خوا ته کړي. د شپیګل آنلاین خبریال د یوې پوښتنې په ځواب کې یو جګپوړې افسر چې نه یې غوستل نوم یې واخیستل شي د راولپنډي په پوځي مرکزي قرارګاه کې وویل ،که حالات له کنټروله ووځي. موږ فکر کوو او کړې دی او جوته خبر ده چې د خپل ملي امنیت لپاره به لازم اقدامات او عملیات وکړو.
د پاکستان د سترې محکمې قاضي افتخار چوهدري له ډیرو کالونو څخه د ولسمشر اصف علی زرداري په وړاندې خپله مبارزه کوي. دغه دواړه یوبل نه شي زغملي. چوهدري یو سړی دی چې د واک خوبونه ویني. ده د لومړي وزیر اشرف مخکني ځایناستي نیم کال مخکې له دندې ګوښه کړو. ځکه دی د زرداري په وړاندې دمالي فساد ضدهڅو کې دچوهدري په لاره کې یو خنډ وو.
که څه هم په تیرو ځومیاشتو کې دقاضیان او جنرالان ترمنځ د یووالي لیوالتیاکوم څرک نه لیدل کیده ، اوس دوی په دې برخه کې بیا په یوه خوله شوي دي چې د اوسني حکومت دقانوني مودې پای ته یو خنډ جوړ کړي. راجا اشرف په وړاندې دمالي فساد تورونه ډیر زاړه دي، دغه سیاسي چارواکې باید ډیر پخوا محکمې ته درول شوي وی. اما دا اوسني اوخت داسي ښیي چې دا ټول شیان له یو بل سره پلان شوي دي، اسلام آباد کې خبریال طعه صدیقي وایي.
دی لکه د ډیري نور ځارونکو په ځیر په دې اند دی چې دیوې پوځي کودتا احتمال ډیر لږ دی. ورستي پوځې کودتا ځورلس کاله مخکې شوې چې جنرال مشرف یې واک ته ورساوه .په همدې منځ کې اوس یوه قوي مدني ټولنه رامنځته شوې ده. ډیر تلویزیونه او اخبارونه رامنځته شوي دي. پوځیان د دوی د ازادیوځواک څخه ویریږي. زه باور نه کوم چې پوځ په کودتا لاس پوري کړي. صدیقي وایي. د دې ډیر احتمال شته دی چې د تکنوکراتانو څخه یو حکومت رامنځته شي او دغه حکومت به د پوځیانو په خوښه عمل کوي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## هیواد له سترو بیسارو ژورو کړکیچونو سره مخامخ دی

تر ډیره بریده د دغي اوسني ټاکل شوي حکومت په وړاندې د ګوتڼیوکې پرځای دي. ددېر وخلکو حالت د حکومت له ټاکلو څخه را ورسته زښت ډیر بدتره شوي. خوراکې توکې په بیساري توګه لوړ شوي دي، خلک دبریښنا، غاز او تیلو له کمښت سره مخامخ دي. ډیرې خلک نشي کولې چې دوه وخت ډوډې وغوري. له یخنیو څخه خلک کړیږي، ځکه دوی د کورنوګرمولو لپاره غاز نه لري. د دې برسیره نور پرابلومونه لکه ترهګري ،د لړکیو په وړاندې تاوتریخوالې او ډیر خلک سختډیزه شوي دي . له خپل بي ثباته ګاوندې هیواد افغانستان سره په شخړو او جګړ وکې بوخت دی،د کراچې په بندري ښارکې خلک د سیاسي واک پر سر سره ځیرلي شوي دي. ددوی لخواکړکیچونه د وسلو په کارولو سره پرمخ بیول کیږي. د ښناک اوبو کمښت،طبعیي ناورینونه، زلزلې او سیلابونو دغه هیواد په سره اخیستي دی.

په داسي ناوړه نازکو حالاتو کې پاکستانیانو ته ډیره بي تفاوته ده چې طاهر القادري د پوځ لخوحمایت کیږي. یا دی دپوځ سړی دی، که څه هم دی دغه تورونه ردوي.

د ډیرو پاکستانیانو په فکرونو کې دا نظر یه اوس برلاسه کیږي چې یو پوځې حکومت بهتره دی له یوې ولسواکۍ یا دموکراسي څخه. پاکستانیانو ته اوس مهمه نه ده چې طاهرالقادري په خپلو ویناوو کې په پاکستان داسلام دسپکاوي له قانون یا د( بلسفیمي قانون) څخه ملاتړ کوي. دی دیو لبیرال ازاد اسلام پلوي هم نه کوي، د ی په خپله د ولسواکۍ په پرانسیبونه ولاړ نه دی، دی یو منتخب حکومت سمدستي لمنځه وړل غواړي. دغه ملا یا روحاني ډیرې ضداو نقیصي خبرې کوي.

د خپل ژوند او راتلونکې په اړه د خلکو نهیلي، په مالي فساد کې ککړ حکومت پر وړاندې قهریدلي خلک، دا ټول کفایت کوي چې خلک هر څه ته ملا وتړي، تر څو خلک دخپل راتلونکې ژوند حالات سم کړي. هیڅ څوک نه پوهیږي چې څوک به د دغې ټولو ناوړو حالاتو مسوولیت پرغاړه واخلي. نه به هغه خلک چې انقلاب غواړي او نه به هغه کوم خلک چې د لومړي وزیر د نیولو پر ضد لاریونونه کوي دا مسوولیت پرغاړه واخلي. پاکستان کې هر څه شوني دي، په سولیز ډول او د تاوترخوالې څخه پرته دحکومت بدلیدل او تر پر له پسي دایمي نارامي تاوتریخوالې امکان شته دی.

پای



پاکستان په کرریز یا کړکیچ کې، قهریدلې لاریونکوونکې او لومړي وزیر بیړنیو حالات کې



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ